**د افغـــانستان اســـلامي امـــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**


**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۴ / رجب المرجب/١٤٤٥هـ، ق موافق ٦ / دلو/۱۴۰۲هـ،ش**

# د الله تعالی د ازمېښتونو د راتللو سببونه او حِکمتونه، او په وړاندې يې د مسلمانانو مسئوليتونه.

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله رب العالمين ، والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين ، وعلى آله وصحبه أجمعين ، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين،

**أما بعد:**

قال الله سبحانه وتعالى وهو احكم الحاكمين: {الم * أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ * وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ}[العنكبوت: ١- ٣].

**درنو حاضرينو !**

ازمېښت، امتحان او مصيبت د الله جل جلاله له خوا جاري سنت دي ، ددې لپاره چې د مؤمنانو ايمان معلوم کړي او دکفارو او فاسقانو لپاره درد او عذاب شي.

الله تعالی انسانان او په ځانګړي توګه مسلمانان په مختلفو ازمېښتونو ازمايي لکه قحطي او وچکالي، ددښمن ويره، سيلابونه او زلزلې، مختلف قسم وبائي مرضونه ، د مالونو نقصان، په فصلونو او باغونو کې نقصان ، د خپلو خپلوان او دکورنۍ د غړو وفات کيدل، فقر ، ولږه او تنده، جسمي او بدني مختلف خطرناک مرضونه او د بدن داعضاؤ نشتوالی، د اولاد نشتوالی اوداسې نور.

الله تعالی فرمايلي دي: {الم * أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ * وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ}[العنکبوت: ١- ٣].

ترجمه:- الف، لام ،ميم، ايا خلکو داګمان کړی دی چې دوی به په خپلې دې وينا پريښودل شي چې مونږ ايمان راوړی دی حال داچې دوی به نه ازمايل کيږي. او يقينا يقينا مونږ هغه کسان ازمايلي ؤ چې له دوی نه مخکې ؤ نو خامخا ضرور به الله هغه کسان معلوموي (ظاهروي) چې رېښتيني دي او خامخا ضرور به دوروغجن معلوموي.

امام ازهري لغوي وايي:(جِمَاعُ مَعْنَى الفِتْنَةِ في كلام العرب الابْتَلاءُ والامْتِحَانُ). تهذيب اللغة (١٤/ ٢١١)

ترجمه:- جامع معنا د فتنې د عربو په کلام کې ازمېښت او امتحان ته ويل کيږي.

او دالله تعالی ازمېښتونه او امتحانات د مختلفو هدفونو لپاره راځي چې وروسته به بيان شي.الله جل جلاله فرمايل دي: {وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ * أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ}[البقرة: ١٥٥-١٥٧].

ترجمه:- او خامخا مونږ به تاسو ضرور په يو شی سره له ويری او له لوږې او د مالونو او ځانونو او ميوو په نقصان (کمي) سره ازمايو او صبر کوونکو ته زيری ورکړه. هغه کسان چې کله دوی ته څه مصيبت ورسي (نو) وايي يقينا مونږ دالله يو او بيشکه مونږ هغه ته ورگرځيدونکي يو.

الله تعالی له خوا ازميښتونه په مختلف قسم خلکو باندې د مختلفو حکمتونو لپاره راځي ، کله په گناهگار او دالله تعالی د لارې څخه باغي شخص باندې دالله تعالی ازميښت راځي او کله الله تعالی ته په ډيرو نږدې کسانو دالله تعالی ازميښت او امتحان راځي، خو ازميښت د کافر لپاره عذاب وي او د مسلمان لپاره امتحان.

پيغمبران او رسولان چې الله تعالی ته خوښ او ترټولو خلکو سپيڅلي انسانان دي په هغوی هم دالله تعالی امتحانات او ازميښتونه راځي، دالله تعالی په اولياؤ هم امتحانات او ازميښتونه راځي.

الله تعالی د ايوب عليه السلام د ازميښت په باره کې وايي: {وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ}الانبياء: (٨٣)

ترجمه:- او (يادکړه) ايوب (عليه السلام) چې کله هغه خپل رب ته آواز وکړ چې يقينا زه (چې يم) ماته تکليف رارسيدلی دی او ته تر ټولو زيات رحم کوونکی يی.

په حديث شريف کې راځي: (عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلاَءً ؟ قَالَ الأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الصَّالِحُونَ ثُمَّ الأَمْثَلُ فَالأَمْثَلُ مِنْ النَّاسِ يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ فَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ صَلاَبَةٌ زِيدَ فِي بَلاَئِهِ وَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ رِقَّةٌ خُفِّفَ عَنْهُ). مسند أحمد (٣/ ٧٨)، سنن الترمذي (٤/ ٦٠١)و قال ابوعيسى: هذا حديث حسن صحيح
ترجمه:- مصعب بن سعد د خپل پلار څخه روايت کوي ، د هغه پلار وايي چې ما وويل: ای دالله رسوله! څوک دی په خلکو کې د سخت ازميښت والا ؟ نبي عليه السلام وفرمايل: د سخت ازميښت والا انبياء دي بيا صالحان دي بيا زيات افضله د خلکو ، بيا زيات افضله د خلکو ، ازمايل کيږي سړی په اندازه د دين دده ( په قوت او ضعف کې) که چيرې د هغه په دين کې صلابت او محکم والی موجود ؤ نو زياتولی شي په ازميښت دده کې او که چيرې په دين دده کې ضعف ؤ کميږي دده نه (ازميښت).
د ابن ماجه په لفظ کې راځي:( إِنْ كَانَ أَحَدُهُمْ لَيُبْتَلَى بِالْفَقْرِ حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُهُمْ إِلَّا الْعَبَاءَةَ يُجَوِّبها وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمْ لَيَفْرَحُ بِالْبَلَاءِ كَمَا يَفْرَحُ أَحَدُكُمْ بِالرَّخَاءِ). سنن ابن ماجه (٢/ ١٣٣٤)في الزوائد إسناده صحيح . رجاله ثقات
ترجمه:- بيشکه ځينې ددوی نه خامخا ازمايل کيږي په فقر سره آن تر دې پورې چې نه پيداکوي يو ددوی نه مگر يو څادر چې هغه څيرې کوي او سر په کې ننباسي او بيشکه يو ددوی خامخا خوشحاليږي په ازميښت باندې لکه څرنگه چې خوشحاليږي يو دستاسې نه په پراخی سره.
رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د کائناتو سردار او امام الانبياء دی دهغه د فقر په باره کې عائشه رضي الله عنها فرمايي:( عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ حَتَّى قُبِضَ). سنن ابن ماجه (٢/ ١١١٠)
ترجمه:- د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايي نه ده مړه شوی کورنۍ د محمد صلی الله عليه وسلم په ډوډۍ د وربشو تر دې پورې چې هغه وفات شو.
په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې دومره امتحانات راغلي دي چې حتی د احد په غزوه کې دواړه غاښونه شهيدان شول.

**= د ازمیښتونو اسباب:**

په دیني نصوصو کې د ازمیښتونو اسباب زیات ذکر شوی دي که چیرې قرآني نصوصو ته مراجعه وکړو وینو چې په قرآن کریم کې ځای پر ځای د اکثره ازمیښتونو لپاره اسباب د بندګانو ګناهونه او سرکشي ذکر شوي ده؛ لکه چې الله تعالی فرمايي: {وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ}الشورى: ۳۰

ترجمه:- او تاسو ته چې څه مصیبت هم رسي نو په سبب د هغو کارونو چې ستاسو لاسونو کړي دي او ډیر (ګناهونه) معاف کوي.

په یو بل آیت شریف کې راځي: {ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} الروم: ٤١

ترجمه:- په وچه او لونده (بر او بحر) کې فساد خور شو په سبب د هغو (عملونو) چې د خلکو لاسونو کړي دي ددې لپاره چې هغه (الله) په دوی ځیني برخه (د سزا) د هغو عملونو وڅکوي چې دوی کړي دي ، ددې لپاره چې دوی را واپس شي.

امام قرطبی ددې آیت په تفسیر کې وایي:(ظهرت المعاصي في البر والبحر فحبس الله عنهما الغيث وأغلى سعرهم ليذيقهم عقاب بعض الذي عملوا.) تفسير القرطبي (١٤/ ٤١)

ترجمه:- ښکار شول ګناهونه په وچه او بحر کې نو الله تعالی ددوی څخه باران بند کړ او نرخونه یې ورلره زیات کړل، ددې لپاره چې وڅکي جزا د هغه کارونو چې دوی کړي دي.

په یو حدیث شریف کې د ازمښتونو اسباب په لاندې ډول ذکر شوي دي :(عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ ، قَالَ : أَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : يَا مَعْشَرَ الْمُهَاجِرِينَ ، خَمْسٌ إِذَا ابْتُلِيتُمْ بِهِنَّ ، وَأَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ تُدْرِكُوهُنَّ :

۱- لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ ، حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا، إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ وَالْأَوْجَاعُ ، الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلَافِهِمُ الَّذِينَ مَضَوْا،

نه ظاهریږي زنا په یو قوم کې هیڅکله تر دې پورې چې دوی په ښکاره ډول یې ترسره کړي؛ مګر دا چې طاعون مرض او نور مرضونه په کې خپریږي هغه مرضونه چې نه دي تیر شوي ددوی په پخوانیو خلکو کې هغه خلک چې پخوا تیر شوي دي.

۲- وَلَمْ يَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ ، إِلَّا أُخِذُوا بِالسِّنِينَ ، وَشِدَّةِ الْمَئُونَةِ ، وَجَوْرِ السُّلْطَانِ عَلَيْهِمْ،

او نه کموي دوی پیمانه او تله ؛ مګر دا چې نیول کیږي به په وچکالۍ او قحطۍ سره او سختۍ سره او د پادشاه په ظلم سره،

۳- وَلَمْ يَمْنَعُوا زَكَاةَ أَمْوَالِهِمْ إِلَّا مُنِعُوا الْقَطْرَ مِنَ السَّمَاءِ ، وَلَوْلَا الْبَهَائِمُ لَمْ يُمْطَرُوا،

او نه منع کوي زکات دمالونو خپلو؛ مګر منع کیږي به ورڅخه باران له اسمان څخه که چیرې حیوانات نه وای هیڅکله به ورباندې باران نه ؤ شوی.

۴- وَلَمْ يَنْقُضُوا عَهْدَ اللَّهِ ، وَعَهْدَ رَسُولِهِ إِلَّا سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ غَيْرِهِمْ ، فَأَخَذُوا بَعْضَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ،

او نه ماتوي د الله وعده او د هغه د رسول وعده ؛ مګر مسلط به کړي الله پر دوی دښمن د نورو قومونو څخه نو وا به اخلي ځیني هغه څه چې ددوی سره دي.

**٥- وَمَا لَمْ تَحْكُمْ أَئِمَّتُهُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ ، وَيَتَخَيَّرُوا مِمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَّا جَعَلَ اللَّهُ بَأْسَهُمْ بَيْنَهُمْ). المستدرك (٤/ ٥٨٢)، سنن ابن ماجه (٢/ ١٣٣٢)**

**او ترهغې پورې چې حکم ونکړي ددوی حاکمان په کتاب الله باندې او غوره کړي هغه څه چې الله تعالی نازل کړي دي(د فیصلې لپاره) ؛ مګر داچې وبه ګرځوي الله ددوی ترمنځ جنګ.**

**په يو بل حديث شريف کې د ازمیښت د سبب په باره کې داسې راځي:(عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا يُعْزَفُ عَلَى رُءُوسِهِمْ بِالْمَعَازِفِ وَالْمُغَنِّيَاتِ يَخْسِفُ اللَّهُ بِهِمْ الْأَرْضَ وَيَجْعَلُ مِنْهُمْ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ). على سنن ابن ماجه مع حاشية السندي (٢/ ٤٨٩)**

**ترجمه:- د ابو مالک اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: وبه څښي ځينې خلک زما له امت څخه شراب نوموي به يي په بل نوم سره ، وبه وهل شي د دوی په سرونو باندې ډول او سرنا او سندرغاړې، ننباسي الله دوی په ځمکه کې او وبه ګرځوي له دوی څخه بیزوګان او خنزيران.**

**ځينې وخت الله تعالی ازمیښت د الله د خوښۍ له امله راځي. په حديث شريف کې راځي:(عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عن رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ عِظَمُ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السُّخْطُ). سنن الترمذي (٤/ ٦٠١)، سنن ابن ماجه (٢/ ١٣٣٨)**

**ترجمه:- انس بن مالک رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روايت نقلوي چې پيغمبر علیه السلام وفرمايل: بيشکه لوی اجر تړلی دی په لوی ازميښت پورې، او بيشکه الله تعالی چې کوم قوم محبوب شي نو په ازميښت کې يي واچوي، نو څوک چې دالله په ازميښت راضي شو ، نو دهغه لپاره دالله رضا ده او څوک چې دالله تعالی په ازميښت په غضب شو، نو د هغه لپاره دالله تعالی غضب دی.**

**علمای کرامو د ازميښتونو ځينې اسباب په لاندې ډول ذکر کړي دي لکه ګناهونه او ګناهونه واړه ګڼل،د ګناهونو او زنا ګانو اظهارول، په بندګانو ظلم کول، مسلمان سپک ګڼل او هغه ته پيغور ورکول، د مور او پلار نافرماني او دخپلولۍ پریکول، دظالمانو او دفساد ګرو ملتيا، د حرامو خوړل او د محرماتو په کولو جرآت کول.**

**= د ازميښتونو د راتللو حکمتونه:**

**الله تعالی پر مسلمانانو باندې ازميښتونه او امتحانونه د مختلفو حکمتونو په وجه نازلوي چې په اکثرو کې د مسلمان خير پروت وي خو ناپوهه مسلمان د الله تعالی ازميښت عذاب ګڼي، چې د دغو حکمتونو څخه ځينې په لاندې ډول دي:**

**١- دمؤمنانو د درجوو د لوړولو لپاره ازميښتونه ر اځي: الله تعالی ځينې ازميښتونه په مؤمنانو ددې لپاره نازولوي چې د صادقو او صابرو مؤمنانو درجې لوړې شي ، د مثال په ډول الله تعالی مؤمنان د کفارو سره په جهاد ازمايي چې په جهاد کې ظاهرا مختلف قسم تکليفونه، مشقتونه پراته دي لکه مرګ ، زخمي کيدل، سفرونه، د مال مصرفول او ډول ډول دردونه ، خو دا ازميښت ددې لپاره دی چې صابره او صادقه مؤمنانو درجې نورې هم لوړې شي. الله تعالی ددې حکمت په اړه فرمايي:{أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ}[آل عمران: ١٤٢].**

ترجمه:- آیا تاسو دا گمان کوئ چې تاسو به جنت ته داخل شئ حال داچې لا تراوسه الله په تاسو کې هغه کسان نه دي معلوم کړي چې جهاد یي کړی دی او ددې لپاره چې هغه صبر کوونکي کې معلوم کړي.

په یو بل آیت کې راځي:{لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيراً وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ}[آل عمران: ١٨٦]. ترجمه: خامخا به تاسو په خپلو مالونو او خپلو ځانونو کې وازمایل شئ او خامخا به تاسو له هغو کسانو نه چې له تاسو نه مخکې ورته کتاب ورکړی شوی دی او له هغو کسانو نه چې مشرکان دي د خپگان ډیرې زیاتې خبرې واورئ او که چیرې تاسو صبر وکړئ او پرهیزگاره شئ نو یقینا دا دهمت دکارونو څخه دی.

په یو بل آیت کې راځي: {أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ}[البقرة: ٢١٤].
ترجمه:- آیا تاسو دا گمان کوئ چې جنت ته به داخل شئ حال داچې پر تاسو باندې لا تر اوسه د هغو خلکو حالت نه دی راغلی چې له تاسو نه مخکې تیر شوي دي ، هغوی ته سختي او بیماري رسیدلی وې او لړزول شوي ؤ تر دې چې رسول او له هغه سره ایمان راوړونکو به وویل: دالله مدد به کله راځي؟ خبردار شئ یقینا دالله مدد ډیر نژدې دی.

نو د مسلمان مسئولیت دادی چې په دې مشقتونو صبر وکړي او خپل ایمان په عمل کې ثابت کړي او د الله تعالی څخه د مرستې او فتحې یقین ولري.

**۲- د مؤمنانو د گناهونو د محوه کولو لپاره ازمیښتونه راځي:** اکثره وخت پرمسلمان باندې ازمیښت او امتحان دده د گناهونو په وجه راځي، نو ددې لپاره چې الله تعالی دوی له گناهونو ووینځي او پاک یي کړي ، مصیبتونه او ازمیښتونه ورباندې نازل کړي . په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ أَوْ الْمُؤْمِنَةِ فِي جَسَدِهِ وَفِي مَالِهِ وَفِي وَلَدِهِ حَتَّى يَلْقَى اللَّهَ وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيئَةٍ) مسند أحمد (١٣/ ٢٤٨)
ترجمه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : همیشه به بلاء او مصیبت په مؤمن او یا مؤمنه باندې وي ، د هغه په جسد کې او دهغه په مال کې او د هغه په بچې کې تر دې پورې چې دالله تعالی سره ملاقي شي او نه به وي په ده کې هیڅ گناه.(یعنی له گناه څخه به پاک شوي وي)
په یو بل حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ) صحيح البخاري ت (١٤/ ٢٣٧)
ترجمه:- ابو هریره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت نقل کوي چې هغه فرمایلي دي: نه رسیږي مسلمان ته هیڅ سختي او درد او دایمي مرض او نه خپگان او نه څه تکلیف او نه غم تر دې پورې چې ازغی یې په پښو کې ځي، مگر داچې رژوي الله تعالی په دې سره دده له گناهونو څخه.
په حدیث شریف کې راځي: (عن عَائِشَةَ قالت سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُشَاكُ شَوْكَةً فَمَا فَوْقَهَا إِلاَّ كُتِبَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَمُحِيَتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ). صحيح مسلم (٨/ ١٤)

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یي فرمایل: داسې مسلمان نشته چې په پښه کې یې ازغی لاړ شي او یا ددې نه زیات(تکلیف ورته ورسیږي) ، مګر داچې لیکل کیږي دده په دې وجه یوه درجه او محوه کیږي په دې سره دده څخه ګناه.

## ۳- ازمیښتونه ددې لپاره راځي چې جدا شي ریښتینی مؤمن له دروغجن څخه:

الله تعالی د مسلمان څخه تش په خوله دایمان دعوه نه قبلوي پرته له دلیل او په کارده چې امتحان ورکړي او ځان په ایمان کې صادقه ثابت کړي ، ددې لپاره الله تعالی وربانديې ازمیښت کوي. الله تعالی فرمايلي دی:{وَلِيَبْتَلِيَ اللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ}[آل عمران: ١٥٤].

ترجمه:- (او دا کار الله تعالی وکړ) ددې لپاره چې الله هغه څه وازمایې چې ستاسو په سینو کې دي او ښه پاک کړي هغه څه چې ستاسو په زړونو کې دي او الله ښه عالم دی پر هغو خبرو چې په سینو کې پرتې دي.

په یو بل آیت کریمه کې راځي: {مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ}[آل عمران: ١٧٩].

ترجمه:- الله له سره داسې نه دی چې مؤمنان په هغه حالت بانديې پریږدي په کوم بانديې چې تاسو (اوس)یی تر دې چې ناپاکه له پاکه بیل کړي.

ازمیښت دی چې خبیث له طیب څخه جدا کوي هغه چې د ازمیښت په وخت کې کافر کیږي، په غضب کیږي او نا امیده کیږي دا باید له هغه مؤمن څخه جدا شي چې د ازمیښت پر وخت یي ایمان نور هم مضبوطیږي او دالله تعالی څخه راضي وي او په امتحان صبر کوي.

پر مؤمنانو د الله تعالی ازمایل حتمي دي : {الم * أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ * وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ}[العنکبوت: ١- ٣].

همدا راز په یو بل آیت کې راځي: {وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنْكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ}[محمد: ٣١].

ترجمه:- او مونږ به تاسو خامخا ضرور ازمایو تر دې چې مونږ په تاسو کې جهاد کوونکي وپیژنو او صبر کوونکي او ستاسو خبرونه وازمایو.

ددې آیت څخه مطلب دادی چې صادقه مؤمنان په ازمیښت کې کامیابیږي او د ازمیښت په مقابل کې ثابت پاتې کیږي او مجاهده کوي او صبر کوي.

## ۴- ازمیښتونه کله ناکله د بندګانو د ویښولو او هغوی ته د خطاګانو د وریادولو لپاره وي :

ځینې وخت الله تعالی مسلمانان ددې لپاره په ازمیښت کې اچوي چې ترڅو له غفلت څخه راویښ شي او خپلو خطاګانو ته متوجه شي او له ګناه څخه لاس په سر شي ، الله تعالی ته رجوع وکړي او توبه وباسي.الله تعالی فرمايلي دي:{ وَلَقَدْ أَرْسَلنَآ إِلَى أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاء وَالضَّرَّاء لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ} الانعام: (٤٢)

ترجمه:- او یقینا یقینا مونږ پیغام لیږلی ؤ له تانه مخکې امتونو ته بیا مونږ هغوی په سختیو او تکلیفونو کې واچول ددې لپاره چې هغوی عاجزي وکړي.

قال ابن كثير -رحمه الله-: (وقوله: {وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاءِ} يعني: الفقر والضيق في العيش، {وَالضَّرَّاءِ} وهي الأمراض والأسقام والآلام، {لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ} أي: يَدْعُون الله ويتضرعون إليه ويخشعون.) تفسير ابن كثير / دار الفكر (٢/ ١٦٢)

حافظ ابن کثیر وايي: ددې کلماتو په تفسیر کې وايي (بالبأساء): يعنې په فقر او تنګ لاسی په ژوند کې. (والضراء) مرضونه او دردونه.

{لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ} ددې لپاره چې راوبلي الله تعالی لره او عاجزي وکړي هغه ته او خشوع غوره کړي.

نو د مسلمان وظیفه داده چې کله په کوم مصیبت او ازمیښت باندې اخته شي باید د ځان سره دې محاسبه وکړي او خپلو خطاګانو او ګناهونو ته دې متوجه شي او الله تعالی ته دي رجوع وکړي او له هغه څخه دې دمشکلاتو لرې کول وغواړي.

**٥- ځینې وخت ازمیښت ددې لپاره راځي چې بنده ته تیر نعمتونه وریاد شي او په موجوده نعمتونو شکر وباسي.**

لکه د مرض ازمیښت انسان ته د صحت نعمت وریادوي ، نو په دې یادولو سره بنده د الله تعالی نورو نعمتونو ته متوجه شي او پر هغې شکر وباسي.

**٦-کله چې الله تعالی کوم بنده ته دخیر اراده وکړي ، ده ته په دنیا کې سزا ورکوي:** ځینې وخت الله تعالی بنده ته د خیر اراده وکړي او د آخرت پر ځای بنده ته په دنیا کې سزا ورکوي ؛ ترڅو دآخرت له عذاب څخه بچ شي چې دده لپاره په دې کې خیر وي . په حدیث شریف کې راځي:(عن أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِعَبْدِهِ الْخَيْرَ عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ حَتَّى يُوَافِيَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ). سنن الترمذي (٤/ ٦٠١)، المستدرك (٤/ ٦٥١)

ترجمه:- د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې الله اراده وکړي خپل بنده ته دخیر ، نو مخکې کړي دده لپاره سزا په دنیا کې او کله چې الله اراده وکړي خپل بنده ته د شر وساتي دده نه سزا په وجه دده د ګناهونو تر دې پورې چې پوره ورکړي ورته سزا په سبب د ګناهونو د قیامت په ورځ.

**د ازمیښتونو پر وخت د مسلمانانو مسئولیت:**

**کله چې کوم مسلمانان په ازمیښت کې پریوتل باید لاندې کارونه وکړي:**

**١- الله تعالی ته زیاته تضرع، عاجزي او د خپل حاجت هغه ته فریاد کول:** کله چې مسلمانان په ازمیښت کې پریوځي؛ باید الله تعالی ته ډیره عاجزي، تضرع او فریاد وکړي او زیاتې دعاګانې وغواړي ترڅو الله تعالی ورباندې رحم وکړي او دغه مصیبت ورڅخه لرې کړي. الله تعالی فرمایلي دي:{وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ}[غافر: ٦٠].ترجمه: او ستاسو رب فرمايي تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم.

همدا راز په یو بل ځای کې فرمايي: {وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ}[البقرة: ١٨٦]،

ترجمه:- او كله چې زما په باره كې له تانه زما بندګان پوښتنه  وكړي نو يقينا زه قريب يم ددعا كوونكو دعا قبلوم كله چې له مانه دعا غواړي پس دوی دې زما حكم ومنئ او پرما دې ايمان راوړئ ددې لپاره چې دوی سمه لار ومومي.

**۲- استغفار ويل، توبه ويستل او الله ته رجوع كول:** كه چيرې د ازميښت د راتلو سبب د بنده ګناه وي او بنده ورباندې پوهه شي ، نو د خلاصي لار زيات استغفار ويل او زياته توبه ويستل دي ترڅو الله تعالى دغه مصيبت لرى كړي. الله جل جلاله فرمايلي دي:{وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ}[الأنفال: ۳۳].

ترجمه:- او الله داسې نه دی چې دوی ته عذاب وركړي په داسې حال كې چې ته په دوی كې يې او الله دوی ته عذاب وركوونكى نه دی په داسې حال كې چې دوی ښښنه (استغفار) غواړي.

قال ابن عباس: إنّ الله جعل في هذه الأمة أمانَيْن، لا يزالون معصومين مُجارِين من قوارع العذاب ما دامَا بين أظهُرِهم: فأمانٌ قبضه الله إليه، وأمانٌ بقي فيكم، قوله: {وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ}. تفسير ابن كثير (٤/ ٤٩).

ترجمه:- عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي: بيشكه الله تعالى په دې امت كې دوه امانونه ګرځولي دي ، تل به دوی خلاص وي او پناه غوښتونكي به وي په دی امانونو باندې د عذابونو څخه ترڅو چې ددوی په منځ كې وي دا امانونه، نو يو خو هغه امان ؤ چې الله تعالى واخيست (محمد صلى الله عليه وسلم) او بل امان باقي دی په تاسو كې چې هغه استغفار دی.

نو ترڅو پورې چې بنده استغفار وايي نو دی به دالله تعالى له طرفه په امان كې وي.

بل داچې استغفار پورې نعمت، قوت، زيادت او بركت تړلی دی. الله تعالى وايي: {وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ}[هود: ۵۲].

الله تعالى د نوح عليه السلام په ژبه وويل: {فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا *يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا * وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا}[نوح: ۱۰-۱۲].

كه چيرې مسلمانان د وچكالۍ او قحطۍ په ازميښت كې مبتلا وي ، نو بايد چې د استسقاء لمونځونه وكړي، صدقات او خيراتونه وكړي.

**۳- صبر كول، د ثبات څخه كار اخيستل او رضا بالقضاء:** كله چې مسلمان په كوم ازميښت كې مبتلا شو ، نو بايد صبر وكړي ،پر ايمان باندې د ثبات څخه كار واخلي او دالله تعالى پر فيصلو خپل رضايت وښايي. خصوصا په هغه صورت كې چې د ازميښت څخه غرض صابر مؤمن له بې صبره مؤمن څخه او طيب له خبيث څخه جدا كول وي.

**۴- په عبادت كې كوښښ كول او عبادت ته توجه  زياتول:** الله تعالى فرمايلي دي:{فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا * إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا * فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ * وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ}[الشرح: ۵-۸].

ترجمه:- نو بيشكه له سختۍ سره اساني شته ، بيشكه له سختۍ سره اساني شته، نو كله چې ته فارغ شئ نو (په عبادت كې) ځان ستړى كوه او خاص خپل رب ته رغبت (او زاري) كوه.

په دې سورت کې الله تعالی د آسانۍ وعده کړې ده پس له سختۍ څخه لیکن په یو شرط سره چې هغه په عبادت کې کوښښ کول دي او ځان په سجدو کې ستړی کول دي.

حافظ ابن کثیر وایي: (أي: إذا فرغتَ من مهامِّك فانصَبْ في طاعته وعبادته). کله چې د خپل کارونو څخه فارغ شوی نو ودریږه دالله په طاعت او عبادت باندې .

(عن الحسَن قال: خرج النبي -صلى الله عليه وسلم- يومًا مسرورًا فرحًا وهو يضحك، وهو يقول: لن يَغلِب عسرٌ يسرَيْن، لن يَغلِب عسرٌ يسرَيْن: {فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا * إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا}. تفسير ابن كثير (٨/ ٢٥٥).

یو ځل د حسن بصري رحمه الله –موقوفا- روایت دی چې هغه وایي چې یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم راو وتلو په داسې حال کې چې خوشحاله ؤ او هغه خندل او داسې یې وویل: هیڅکله به غالب نشي یوه سختي په دوه اسانیو باندې ، هیڅکله به غالب نشي یوه سختي په دوه اسانیو باندې بیا دا آیت ولوستلو: {فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا * إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا}.

**٥- په ټولو کارونو کې د الله تعالی څخه ویره او تقوا اختیارول:** تقوا د ټولو سختیو، ربړو، ازمیښتونو، مصیبتونو او تنګدستیو څخه د خلاصون لار ده. الله تعالی فرمایلي دي:{وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا * وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ }[الطلاق: ٢، ٣].

ترجمه:- او هغه څوک چې د الله نه وویریږي (نو) هغه به دده لپاره د وتلو څه ځای پیدا کړي او ده ته به له هغه ځای رزق ورکړي چې دی به ګمان هم نه کوي او هغه څوک چې په الله باندې توکل وکړي نو همدی دده لپاره بس (او کافي ) دی.

په یو بل آیت کې یې داسې وعده کړې ده: {وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا * ذَلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنْزَلَهُ إِلَيْكُمْ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا}[الطلاق: ٤، ٥].

ترجمه:- او هغه څوک چې له الله نه و ویریږي هغه به دده لپاره په کار کې ډیر اساني پیدا کړي دغه دالله حکم دی چې تاسو ته یې دغه نازل کړی دی او هغه څوک چې له الله نه وویریږي هغه به له ده نه دده ګناهونه لرې کړي او دده لپاره به اجر ډیر لوی کړي.

**٦- د الله تعالی په کتاب فیصلې کول:** که چیرې مسلمانان ددې امله په ازمیښت کې وي چې د الله تعالی په کتاب فیصلې معطل شوی وي، نو باید چې د مسلمانانو امیر او حاکم محاکمو ته حکم وکړي چې پرته دالله تعالی له کتاب څخه په بل څه فیصله ونه کړئ.